AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۲/۱۱

# پښېمان فالي (فالګر)

# (طنز)

یو تن له خپل فالي ملګري نه ډېر په تنګ شوی و، څکه هغه به يي هره ورځ د لاس ليکي (کرښې) کتلي او ويل به يي چې نن به ستا فلانکی ارمان او بيستانکی خواهش پوره شي.

د ده دغي چارې يي ملګری بيخي تر پوزې راوستی و، نو هماغه و چې ملګري يې د غلي کولو په ترکيب فکر پيل کړ.

په بله ورځ چې د فالګر ملګری ورسره مخ شو نو له ستړي مشي وړاندې يې ورته وويل: فالي ياره! زما د لاس په کتلو سره را ته ويلې شې چې ايا نن به زما هدف او غوښتنه پوره شي که نه؟

فالګر په خندا ورته وويل: هو، ولې نه. زه ۱۰۰ فيصده يقيني يم چې ستا هيله نن پوره کيږي.

نو دوست يې لاس ور وغځاوه: که داسې وي نو بيا خو نن له جيب نه يو پنځه زرۍ (۵۰۰۰ روپۍ) راوباسه!

فالي د خپل ملګري له ځواب اوريدلو سره نيغ ولوېده او د پښېمانۍ لاسونه يې په سر راکش کړل.

ژباړه

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ